# ص

**مکی سورة دی ۸۸ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

صٓۚ وَٱلۡقُرۡءَانِ ذِي ٱلذِّكۡرِ ١

**صاد-( په اصل معنی يې الله تعالی او رسول صلی الله عليه وسلم ډير ښه پوهيږی) قسم په قرآن( چې د حقايقو، اخلاقی او ټولنيزو لارښوونو او د حلالو او حرامو د احکامو ) په ذکر مشتمل دی.**

بَلِ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ فِي عِزَّةٖ وَشِقَاقٖ ٢

**( د قرآن له منلو څخه د کافرانو د انکار لويه وجه دا ده چې) دوی په سخته سرکشی، تکبر او عداوت کې ډوب دی.**

كَمۡ أَهۡلَكۡنَا مِن قَبۡلِهِم مِّن قَرۡنٖ فَنَادَواْ وَّلَاتَ حِينَ مَنَاصٖ ٣

**له دوی وړاندې، مونږ ډير داسې قومونه تباه کړی( چې د پيغمبرانو په مقابل کې جنګيدل او چې کله له څلورو خواو، الهی عذاب را ونيول، د مرستې لپاره يې) ډيرې چيغې سورې ووهلې خو د تيښتې او نجات وخت او فرصت يې له لاسه وتلی و.**

وَعَجِبُوٓاْ أَن جَآءَهُم مُّنذِرٞ مِّنۡهُمۡۖ وَقَالَ ٱلۡكَٰفِرُونَ هَٰذَا سَٰحِرٞ كَذَّابٌ ٤

**او دا ورته د حيرانتيا وړ ښکاريده چې د دوی له خپل( انسانی) جنس نه ورته يو اخطار ورکوونکی( پيغمبر) راغلی، او کافرانو به ويل چې دی لوی دروغجن کوډګر دی.**

أَجَعَلَ ٱلۡأٓلِهَةَ إِلَٰهٗا وَٰحِدًاۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٌ عُجَابٞ ٥

**( دوی وايی) آيا(محمد) د ډيرو خدايانو په ځای، يو خدای غوره کړی؟ دا څه نااشنا خبره ده.**

وَٱنطَلَقَ ٱلۡمَلَأُ مِنۡهُمۡ أَنِ ٱمۡشُواْ وَٱصۡبِرُواْ عَلَىٰٓ ءَالِهَتِكُمۡۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيۡءٞ

يُرَادُ ٦

**( ابو جهل او د قريشو نور سرداران او اشراف چې د ابوطالب په منځګړيتوب، د خپلو خدايانو د درناوی لپاره د پيغمبر عليه السلام حضور ته راغلل او آنحضرت ورته د توحيد کلمه وړاندې کړه ټول په ډير قهر او غصه)**

له مجلسه ووتل( او خلکو ته يې اعلان وکړ چې) لاړ شئ او د خپلو خدايانو په ساتنه او عبادت ټينګ او ثابت ودرېږئ، ځکه مونږ دغه( د يو خداى د منلو) دعوت نشو منلى.

مَا سَمِعْنَا بِهَٰذَا فِي الْمِلَّةِ الْآخِرَةِ إِنْ هَٰذَا إِلَّا اخْتِلَاقٌ ﴿٧﴾

مونږ دغه( د واحد خداى د عبادت مسأله) په وروستنى دين( عيسويت) کې نه ده اوريدلې( ځکه عيسويان هم په دريو خدايانو عقيده لرى) دا( د الله د توحيد ادعا) يوازې جوړ شوى دروغ دى.

أَأُنزِلَ عَلَيْهِ الذِّكْرُ مِن بَيْنِنَا ۚ بَلْ هُمْ فِي شَكٍّ مِّن ذِكْرِي ۖ بَل لَّمَّا يَذُوقُوا عَذَابِ ﴿٨﴾

آيا زمونږ په منځ کې( چې د مال، ثروت او مقام او قدرت لرونکى يو) قرآن يوازې( په بيوزلى يتيم محمد ) نازليږى؟( الله تعالى وفرمايل چې کافران ) زما د قرآن په باب په شک کى دى، بلکه لا تر اوسه يې د عذاب خوند نه دى څکلى( چې د قرآن په حقانيت د اقرار چيغې ووهى).

أَمْ عِندَهُمْ خَزَائِنُ رَحْمَةِ رَبِّكَ الْعَزِيزِ الْوَهَّابِ ﴿٩﴾

آيا ستا د برلاسى او ښښونکى رب د رحمت خزانې، د دوى په لاس کې دى( چې د نبوت منصب چاته چې يې وغواړى په لاس ورکړى؟).

أَمْ لَهُم مُّلْكُ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا ۖ فَلْيَرْتَقُوا فِي الْأَسْبَابِ ﴿١٠﴾

او که د آسمانونو او ځمکې او په هغو کې د ټوله موجوداتو او مخلوقاتو مالکيت او سلطنت د دوى په لاس کې دى؟( که فرضاً داسې وى) نو په هر ډول وسايلو( چې کولى شى) پورته دې وخيژى او د وحې د نزول مخه دې ونيسى.

جُندٌ مَّا هُنَالِكَ مَهْزُومٌ مِّنَ الْأَحْزَابِ ﴿١١﴾

دوى په حقيقت کې( د کفر او شرک د احزابو) يو کوچنى لښکر دى چې د ( بدر د غزا په ډګر کې به) هرومرو ماتې وخورى.

كَذَّبَتْ قَبْلَهُمْ قَوْمُ نُوحٍ وَعَادٌ وَفِرْعَوْنُ ذُو الْأَوْتَادِ ﴿١٢﴾

له دوى نه وړاندې هم د نوح قوم او عاديانو او فرعون چې په ټولو مادى وسايلو سمبال وو،( د پيغمبرانو دعوت) دروغ ګڼلى و.

وَثَمُودُ وَقَوۡمُ لُوطٖ وَأَصۡحَٰبُ لۡـَٔيۡكَةِۚ أُوْلَٰٓئِكَ ٱلۡأَحۡزَابُ ١٣

**او ثموديانو او د لوط قوم او اصحاب ايکه چې ټول( د کفر او شرک) احزاب دی.**

إِن كُلٌّ إِلَّا كَذَّبَ ٱلرُّسُلَ فَحَقَّ عِقَابِ ١٤

**هر يوه يې پيغمبران دروغ وګڼل او له همدې امله ورباندې د عذاب فيصله صادره شوه.**

وَمَا يَنظُرُ هَٰٓؤُلَآءِ إِلَّا صَيۡحَةٗ وَٰحِدَةٗ مَّا لَهَا مِن فَوَاقٖ ١٥

**او( ستا د عصر کافران چې ستا له حق دعوت نه انکار کوی) هغې هيبتناکې او مرګونی چيغې ته انتظار باسی چې هيڅ ځنډ او ځنډ به پکې نه وی.**

وَقَالُواْ رَبَّنَا عَجِّل لَّنَا قِطَّنَا قَبۡلَ يَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ١٦

**او دوی( د ملنډو او مسخرو) په توګه وايی : ای ربه ! زمونږ د عذاب برخه، مونږ ته د حساب کتاب له ورځې نه وړاندې راکړه.**

ٱصۡبِرۡ عَلَىٰ مَا يَقُولُونَ وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَا دَاوُۥدَ ذَا ٱلۡأَيۡدِۖ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ١٧

**( ای پيغمبره! ستا او اسلامی دعوت په ضد) د مشرکانو او کافرانو ټولې ګستاخانه خبرې، په صبر او استقامت وزغمه، او زما بنده داود رایاد کړه چې( د جسمانی او روحانی) قوت او پوهې لرونکی،(او د خپل رب حضور ته) تابعدار او رجوع کوونکی و( د طالوت د حکومت په وخت کې د جالوت د قواو په ضد په پوره ثبات او استقامت وجنګيد، جالوت يې وواژه او بالاخره ورته حکومت او اقتدار هم ورپه برخه شو).**

إِنَّا سَخَّرۡنَا ٱلۡجِبَالَ مَعَهُۥ يُسَبِّحۡنَ بِٱلۡعَشِيِّ وَٱلۡإِشۡرَاقِ ١٨

**مونږ ورته غرونه تابع او مسخر کړی وو، چې سهار ماښام به يې له داود عليه السلام سره تسبيحات تکرارول.**

وَٱلطَّيۡرَ مَحۡشُورَةٗۖ كُلّٞ لَّهُۥٓ أَوَّابٞ ١٩

**او مارغان مو هم په ډله ايزه توګه د هغه تابع کړی وو( چې تسبيحات به يې ورسره زمزمه کول) او ټول د الله تعالی حضور ته عبادت کوونکی وو.**

وَشَدَدۡنَا مُلۡكَهُۥ وَءَاتَيۡنَٰهُ ٱلۡحِكۡمَةَ وَفَصۡلَ ٱلۡخِطَابِ ٢٠

**او د هغه د سلطنت بنسټونه مو( په مختلف النوع پوځونو داسې) ټينګ کړل( چې په ټوله نړۍ يې رعب او هيبت پروت و، او حکمت( نبوت،ښه تدبير، نطق او فصاحت او د مسايلو د سالم قضاوت قوت او نور راز راز علمی او عملی کمالات) مو هم ورکړی وو( خو بيا هم له الهی ابتلا او ازميښت نه خلاص نه شو):**

۞ وَهَلۡ أَتَىٰكَ نَبَؤُاْ ٱلۡخَصۡمِ إِذۡ تَسَوَّرُواْ ٱلۡمِحۡرَابَ ﴿٢١﴾

(ای پیغمبره!) د هغو جګړه کوونکو له حاله خبر يې چې د هغه د عبادتخانې په ديوال ورواوختل.

إِذۡ دَخَلُواْ عَلَىٰ دَاوُۥدَ فَفَزِعَ مِنۡهُمۡۖ قَالُواْ لَا تَخَفۡۖ خَصۡمَانِ بَغَىٰ بَعۡضُنَا عَلَىٰ بَعۡضٖ فَٱحۡكُم بَيۡنَنَا بِٱلۡحَقِّ وَلَا تُشۡطِطۡ وَٱهۡدِنَآ إِلَىٰ سَوَآءِ ٱلصِّرَٰطِ ﴿٢٢﴾

کله چې د داود ( د عبادت خونې ته) ورننوتل( او له حفاظتی او امنيتی تدابيرو څخه په تيريدو په ناګهانی توګه هغه ته مخامخ ودريدل، داود عليه السلام چې پخپل عبادت کې مصروف و) ووېريد،خو هغوی ورته وويل: مه ويرېږه. مونږ دوه ډلې مخالفين او د قضاوت غوښتونکی يو چې يوې ډلې په بلې ډلې ظلم زياتی کړی، نو ته زمونږ ترمنځ عادلانه قضاوت وکړه( او پخپله فيصله کې) له ظلم نه کار مه اخله او مونږ ته سمه او د انصاف لاره وښايه.

إِنَّ هَٰذَآ أَخِي لَهُۥ تِسۡعٞ وَتِسۡعُونَ نَعۡجَةٗ وَلِيَ نَعۡجَةٞ وَٰحِدَةٞ فَقَالَ أَكۡفِلۡنِيهَا وَعَزَّنِي فِي ٱلۡخِطَابِ ﴿٢٣﴾

(مسأله دا ده چې:) دا زما ورور دی او نهه نوی مېږې لری، او زه صرف يوه مېږه لرم، خو دی غواړی چې زما دغه يوه مېږه هم راڅخه واخلی او خپلې سل وربانديې پوره کړی. (بل مشکل دا دی چې ورور مې څنګه چې په مال او ثروت کې له ما ښه موړ پټ دی، پوره خوله ور او خبر لوڅ هم دی) او په خبرو کې مې داسې ملامتوی( چې ټول خلک د ده د خبرو په اوريدو، ما ته د پرې ګوته نيسی).

قَالَ لَقَدۡ ظَلَمَكَ بِسُؤَالِ نَعۡجَتِكَ إِلَىٰ نِعَاجِهِۦۖ وَإِنَّ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡخُلَطَآءِ لَيَبۡغِي بَعۡضُهُمۡ عَلَىٰ بَعۡضٍ إِلَّا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ وَقَلِيلٞ مَّا هُمۡۗ وَظَنَّ دَاوُۥدُ أَنَّمَا فَتَنَّٰهُ فَٱسۡتَغۡفَرَ رَبَّهُۥ وَخَرَّۤ رَاكِعٗاۤ وَأَنَابَ۩ ﴿٢٤﴾

( داود) وويل: بيشکه چې ده پخپله غوښتنه چې ستا مېږه له خپلو مېږو سره زياتول غواړی، په تا ظلم کړی او ډير داسې شريکان شته( چې د خپلې زياتې برخې په لرلو سره د لږو برخو په لرونکو) ظلم کوی، خو هغه کسان چې ايمان يې راوړی او نيک کارونه کوی، مستثنی دی خو شمير يې په دنيا کې ډير لږ دی. او داود ډير ژر پوه شو چې دا پيښه د ده لپاره يو ازميښت او امتحان و، نو فوراً خپل رب ته په سجده پريوت او ښښنه يې وغوښته.

فَغَفَرۡنَا لَهُۥ ذَٰلِكَۖ وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٢٥﴾

نو مونږ هم ( د دغه يو طرفه قضاوت له امله) هغه ته ببښنه وکړه، بې له شکه چې هغه زمونږ په نزد د لوړې مرتبې او منزلت لرونکی او نيک شخصيت دی( او په دغه اشتباه سره د ده په قدر او منزلت کې کوم بدلون نه دی راغلی).

يَٰدَاوُۥدُ إِنَّا جَعَلۡنَٰكَ خَلِيفَةٗ فِي ٱلۡأَرۡضِ فَٱحۡكُم بَيۡنَ ٱلنَّاسِ بِٱلۡحَقِّ وَلَا تَتَّبِعِ ٱلۡهَوَىٰ فَيُضِلَّكَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِۚ إِنَّ ٱلَّذِينَ يَضِلُّونَ عَن سَبِيلِ ٱللَّهِ لَهُمۡ عَذَابٞ شَدِيدُۢ بِمَا نَسُواْ يَوۡمَ ٱلۡحِسَابِ ﴿٢٦﴾

( ورته مو وويل:) ای داوده! ته په ځمکه کې زمونږ خليفه او ځايناستی يې( چې نبوت او لوی سلطنت مو درکړی) نو د خلکو ترمنځ د عدالت او انصاف په رڼا کې داسې فيصله کوه، چې ستا نفسی خواهشات پکې شامل نه وی، ځکه د نفسی خواهشاتو پيروی، انسان د الله تعالی له لارې منحرفوی، بيا يې د حساب کتاب ورځ هيره او د دردوونکی عذاب ور ګرځی.

وَمَا خَلَقۡنَا ٱلسَّمَآءَ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا بَٰطِلٗاۚ ذَٰلِكَ ظَنُّ ٱلَّذِينَ كَفَرُواْۚ فَوَيۡلٞ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ مِنَ ٱلنَّارِ ﴿٢٧﴾

او آسمانونه او ځمکه او د هغو ترمنځ موجودات مو بابيزه او بې هدفه نه دی پيدا کړی، دا د کافرانو ګومان دی( چې وايی: ژوند يوازې د خوراک څښاک او مزو چرچو نوم دی او وروسته کوم حساب کتاب او پوښتنه نشته). نو افسوس دی په کافرانو چې دوزخ ته ورتلونکی دی.

أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ وَعَمِلُواْ ٱلصَّٰلِحَٰتِ كَٱلۡمُفۡسِدِينَ فِي ٱلۡأَرۡضِ أَمۡ نَجۡعَلُ ٱلۡمُتَّقِينَ كَٱلۡفُجَّارِ ﴿٢٨﴾

آيا( امکان شته) چې مونږ، نيک عمله مؤمنان له مفسدينو او تخريبکارانو سره په يوه ليکه کې ودروو. آيا پرهيزګاران او مفسدين سره يو شان دی؟( نه، هيڅکله برابر نه دی او دغه کار له الهی عدل او حکمت سره کاملاً منافی دی).

كِتَٰبٌ أَنزَلۡنَٰهُ إِلَيۡكَ مُبَٰرَكٞ لِّيَدَّبَّرُوٓاْ ءَايَٰتِهِۦ وَلِيَتَذَكَّرَ أُوْلُواْ ٱلۡأَلۡبَٰبِ ﴿٢٩﴾

**دا کتاب( قرآن) چې مونږ تاته نازل کړی،له برکت نه ډک دی ترڅو یې( خلک) په آیتونو کې ښه فکر او تدبر وکړی او په خبره پوه کسان ترې پند اخستی شی.**

وَوَهَبۡنَا لِدَاوُۥدَ سُلَيۡمَٰنَۚ نِعۡمَ ٱلۡعَبۡدُ إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٣٠﴾

**او داود ته مو(ځوی) سلیمان  وربښلی و، چې زمونږ نیک بنده( او د خپل پلار  داود په شان د الله تعالی نبی او پاچا)او خپل رب ته ډیر زیات  رجوع کوونکی و.**

إِذۡ عُرِضَ عَلَيۡهِ بِٱلۡعَشِيِّ ٱلصَّٰفِنَٰتُ ٱلۡجِيَادُ ﴿٣١﴾

**کله چې ورته مازیګر مهال د اصیلو ګړندیو آسونو مارش وړاندې شو.**

فَقَالَ إِنِّيٓ أَحۡبَبۡتُ حُبَّ ٱلۡخَيۡرِ عَن ذِكۡرِ رَبِّي حَتَّىٰ تَوَارَتۡ بِٱلۡحِجَابِ ﴿٣٢﴾

**نو ویې ویل: ما ځکه له دې آسونو سره ډیره مینه وکړه چې غواړم له هغو نه له اعلاء کلمة الله لپاره( په مقدس جهاد کې استفاده  وکړم، او  بیا یې پرله پسې آسونو ته کتل) تر دې چې په ځغاسته کې یې له سترګو پناه شول .**

رُدُّوهَا عَلَيَّۖ فَطَفِقَ مَسۡحَۢا بِٱلسُّوقِ وَٱلۡأَعۡنَاقِ ﴿٣٣﴾

**( د آسونو ښکلا او ځغاسته دومره زړه راکښونکې وه چې سلیمان علیه السلام  وویل:) یو ځل یې بیا زما مخې ته حاضر کړئ( او کله چې  ورته راوستل شول، د مینې او شفقت لپاره یې ورلـه) په پنډیو او غاړو لاس تیر کړل.**

وَلَقَدۡ فَتَنَّا سُلَيۡمَٰنَ وَأَلۡقَيۡنَا عَلَىٰ كُرۡسِيِّهِۦ جَسَدٗا ثُمَّ أَنَابَ ﴿٣٤﴾

**او بیشکه چې سلیمان مو( د هغه د دې هیلې له امله چې غوښتل یې زوی یې له ده نه وروسته د پاچاهی په تخت کینی او سلطنت د ده په کورنۍ کې نسل په نسل دوامدار پاتې شی) وازمایه او په تخت مو ورته یو مړ جسد وروغورزاوه او بیا یې( چې د زوی بې کفایتی ورته ثابته شوه،  بیرته له خپلې هیلې  تیر شو او) له  الله تعالی یې ببښنه وغوښته .**

قَالَ رَبِّ ٱغۡفِرۡ لِي وَهَبۡ لِي مُلۡكٗا لَّا يَنۢبَغِي لِأَحَدٖ مِّنۢ بَعۡدِيٓۖ إِنَّكَ أَنتَ
ٱلۡوَهَّابُ ﴿٣٥﴾

**ویې ویل: ای زما ربه ماته ببښنه وکړه او داسې پیاوړی سلطنت راکړه چې له ما نه وروسته یې هیڅوک مستحق و نه ګڼل شی، او ساری یې په دنیا کې ونه لیدل شی. بیشکه چې ته تر ټولو ښه لوروونکی ذات یې.**

فَسَخَّرۡنَا لَهُ ٱلرِّيحَ تَجۡرِي بِأَمۡرِهِۦ رُخَآءً حَيۡثُ أَصَابَ ﴿٣٦﴾

**نو( مونږ یې دعا قبوله کړه او) باد مو د هغه تابع او مسخر کړ، هر چیرې چې به هغه غوښتل په فرمان به یې آرام او نرم روان و( او د ده اوږده سفرونه یې رالنډ کړی وو).**

وَٱلشَّيَٰطِينَ كُلَّ بَنَّآءٖ وَغَوَّاصٖ ﴿٣٧﴾

**او د شیطانانو له ډلې مو ورته معماران او لامبوزن هم ( مسخر او تابع کړی وو).**

وَءَاخَرِينَ مُقَرَّنِينَ فِي ٱلۡأَصۡفَادِ ﴿٣٨﴾

**او نور( شیاطین) چې په ځنځیرونو تړل شوی وو( د هغه په واک کې مو ورکړل تر څو د هغه په حکومت کې ګډوډوی او فساد جوړ نه کړی).**

هَٰذَا عَطَآؤُنَا فَٱمۡنُنۡ أَوۡ أَمۡسِكۡ بِغَيۡرِ حِسَابٖ ﴿٣٩﴾

**( او ورته مو وویل) چې د دغه( لوی سلطنت لویې خزانې) زمونږ**
**لویه لورینه ده( چاته چې ته غواړې) بې حسابه ترې بخشش ورکوه( او چاته چې نه غواړې) لاس ترې ونیسه.**

وَإِنَّ لَهُۥ عِندَنَا لَزُلۡفَىٰ وَحُسۡنَ مَـَٔابٖ ﴿٤٠﴾

**بیشکه چې سلیمان زمونږ حضور ته مقرب او د لوړې مرتبې او نیک عاقبت لرونکی شخصیت و.**

وَٱذۡكُرۡ عَبۡدَنَآ أَيُّوبَ إِذۡ نَادَىٰ رَبَّهُۥٓ أَنِّي مَسَّنِيَ ٱلشَّيۡطَٰنُ بِنُصۡبٖ
وَعَذَابٍ ﴿٤١﴾

**او زمونږ بنده ایوب رایاد کړه چې خپل رب ته یې دعا وکړه : شیطان مې( د رنځ او تکلیف په وسیله) ځوروی( او د ناروغی په شدت کې وسوسې هم رااچوی او ستا له رحمت نه مې نا امیده کوی).**

ٱرۡكُضۡ بِرِجۡلِكَۖ هَٰذَا مُغۡتَسَلُۢ بَارِدٞ وَشَرَابٞ ﴿٤٢﴾

**( نو د دعا په استجابت کې مو ورته امر وکړ چې) په پښو دې ځمکه ووهه، د غسل او څښلو لپاره به دې د یخو اوبو( چینه) راوبهیږي( د همدغې چینې د اوبو څښاک او غسل د ایوب علیه السلام  د صحت او شفا سبب شو).**

وَوَهَبْنَا لَهُۥٓ أَهْلَهُۥ وَمِثْلَهُم مَّعَهُمْ رَحْمَةً مِّنَّا وَذِكْرَىٰ لِأُو۟لِى ٱلْأَلْبَٰبِ ﴿٤٣﴾

**او د ده د کورنۍ هغه غړي مو( چې د ده د اتلس کلنې اوږدې ناروغۍ په موده کې ترې خواره واره شوي وو، ورته بیرته راټول)  او د هغو په شان نور مو هم  ورته وروبښل، تر څو زمونږ له خوا رحمت او د عقل د خاوندانو لپاره پند او نصیحت شي( چې باید د کړاوونو او مصیبتونو په وخت کې صبر او خپل رب ته رجوع وکړي).**

وَخُذْ بِيَدِكَ ضِغْثًا فَٱضْرِب بِّهِۦ وَلَا تَحْنَثْ ۗ إِنَّا وَجَدْنَٰهُ صَابِرًا ۚ نِّعْمَ ٱلْعَبْدُ ۖ

إِنَّهُۥٓ أَوَّابٌ ﴿٤٤﴾

**( او ایوب ته مو وویل: د خپل هغه قسم د پوره کولو لپاره چې د خپلې وفادارۍ او خدمتګارۍ میرمنې سره د ډیر عادي خفګان له امله دې  په هغې باندې د سلو ګوزارونو لپاره یاد کړی و) هغه د جارو د څو ډکو په دسته ووهه( او سوګند دې په ځای کړه). بیشکه مونږ ولیدل چې هغه( ایوب په مصیبت کې) ډیر زیات صبر کوونکی، نیک انسان او خپل رب ته تابع او توبه کوونکی و.**

وَٱذْكُرْ عِبَٰدَنَآ إِبْرَٰهِيمَ وَإِسْحَٰقَ وَيَعْقُوبَ أُو۟لِى ٱلْأَيْدِى وَٱلْأَبْصَٰرِ ﴿٤٥﴾

**او زمونږ بندګان ابراهیم، اسحاق او یعقوب د یادولو دي چې( د خپل رب په طاعت او د دین په اسرارو کې) د قدرت او بصیرت خاوندان وو.**

إِنَّآ أَخْلَصْنَٰهُم بِخَالِصَةٍ ذِكْرَى ٱلدَّارِ ﴿٤٦﴾

**او هغوی مو د آخرت د یاد او اعتقاد لپاره په ځانګړې توګه پاک کړل.**

وَإِنَّهُمْ عِندَنَا لَمِنَ ٱلْمُصْطَفَيْنَ ٱلْأَخْيَارِ ﴿٤٧﴾

**او بیشکه چې هغوی زمونږ په نزد ډیر غوره او نیک بندګان وو.**

وَٱذْكُرْ إِسْمَٰعِيلَ وَٱلْيَسَعَ وَذَا ٱلْكِفْلِ ۖ وَكُلٌّ مِّنَ ٱلْأَخْيَارِ ﴿٤٨﴾

**او اسماعیل، الیسع او ذالکفل ټول د یادولو وړ نیک شخصیتونه وو.**

هَٰذَا ذِكْرٌ ۚ وَإِنَّ لِلْمُتَّقِينَ لَحُسْنَ مَـَٔابٍ ﴿٤٩﴾

دغه( مبارک قرآن) د پند او نصیحت منبع ( او دغه واقعی داستانونه د الهی پیغمبرانو یاد ګیرنه ده چې په دنیا کې به په عزت او لوړ نوم یادیږی) او بیشکه چې د پرهیزګارانو انجام او عاقبت ډیر غوره او نیک دی.

جَنَّٰتِ عَدۡنٖ مُّفَتَّحَةٗ لَّهُمُ ٱلۡأَبۡوَٰبُ ﴿٥٠﴾

( دغه نیک عاقبت) هغه تلپاتې جنتونه دی چې دروازې به یې( د ملایکو له خوا په عزت او درناوی) د پرهیزګارانو په مخ خلا صیږی.

مُتَّكِـِٔينَ فِيهَا يَدۡعُونَ فِيهَا بِفَٰكِهَةٖ كَثِيرَةٖ وَشَرَابٖ ﴿٥١﴾

په تختونو به یې ډډې وهلی وی او د دوی د خپلې خوښې میوې او خوراک څښاک به ورته راوړل کیږی.

۞ وَعِندَهُمۡ قَٰصِرَٰتُ ٱلطَّرۡفِ أَتۡرَابٌ ﴿٥٢﴾

داسې همزولې میرمنې به یې په خدمت کې وی چې یوازې له خپلو څښتنانو سره به یې مینه وی.

هَٰذَا مَا تُوعَدُونَ لِيَوۡمِ ٱلۡحِسَابِ ﴿٥٣﴾

( ورته به ویل کیږی) دا ټول هغه نعمتونه دی چې د قیامت د ورځې لپاره یې ستاسو سره وعده شوې وه.

إِنَّ هَٰذَا لَرِزۡقُنَا مَا لَهُۥ مِن نَّفَادٍ ﴿٥٤﴾

دا هغه الهی لورینه ده چې پای او اختتام نه لری.

هَٰذَاۚ وَإِنَّ لِلطَّٰغِينَ لَشَرَّ مَـَٔابٖ ﴿٥٥﴾

دغه شو( د پرهیزګارانو برخه لیک خو د الله تعالی له اوامرو او احکامو نه ) باغیانو او سرکشانو (او د الهی پیغمبرانو تکذیبوونکو)ته یوې ډیرې ناوړې مرجع او هستوګنځی خپله دروازه پرانستې او ورته په انتظار ده.

جَهَنَّمَ يَصۡلَوۡنَهَا فَبِئۡسَ ٱلۡمِهَادُ ﴿٥٦﴾

هغه دوزخ دی چې دوی به ورننوځی، تر ټولو بد ( او له زجر او شکنجو ډک) هستوګنځی( او له اوره ډک فرش دی چې دوی د ځان لپاره هوار کړی دی) .

هَٰذَا فَلۡيَذُوقُوهُ حَمِيمٞ وَغَسَّاقٞ ﴿٥٧﴾

( ورته به ویل کیږی) دغه جوشیدلې اوبه او بدبویه خیرنه مایع ستاسو لپاره (مقرره) څښاک دی، چې باید جبراً یې وڅښی.

وَءَاخَرُ مِن شَكۡلِهِۦٓ أَزۡوَٰجٌ ﴿٥٨﴾

او لا نور ډول ډول عذابونه او شکنجې هم ورته په ځای پرتې دی.

هَٰذَا فَوْجٌ مُّقْتَحِمٌ مَّعَكُمْ ۖ لَا مَرْحَبًا بِهِمْ ۚ إِنَّهُمْ صَالُوا النَّارِ ﴿٥٩﴾

( د دوزخ پیره داران به کافرو او مشرکو رهبرانو ته ووایی:) دا ستاسو د پیروانو لښکر دی چې ستاسو سره به یو ځای دوزخ ته ننوزی.( رهبران به ووایی: زمونږ د پیروانو لپاره هیڅ کرامت او عزت نشته او) نه ورته ښه راغلاست وایو، ځکه هغوی هم (زمونږ په شان) د دوزخ مستحق دی( او په دې ډول به د دواړو ډلو( رهبرانو او پیروانو تر منځ د دنیوی دوستۍ او عقیدت ټولې تنستې وشلیږی او د خپلو خپلو ناوړو اعمالو او باطلو عقایدو په سزا به ورسی).

قَالُوا بَلْ أَنتُمْ لَا مَرْحَبًا بِكُمْ ۖ أَنتُمْ قَدَّمْتُمُوهُ لَنَا ۖ فَبِئْسَ الْقَرَارُ ﴿٦٠﴾

( پیروان به خپلو رهبرانو ته) ووایی: بلکه تاسو ته دې ښه راغلاست نه وی، همدا تاسو زمونږ لپاره دغه عذاب لا وړاندې تیار کړی و. رښتیا چې ډیر بد هستوګنځی دی.

قَالُوا رَبَّنَا مَن قَدَّمَ لَنَا هَٰذَا فَزِدْهُ عَذَابًا ضِعْفًا فِي النَّارِ ﴿٦١﴾

او وایی به چې ای ربه چا چې دغه عذاب زمونږ لپاره برابر کړی د اور دوه چنده عذاب ورته ورکړه.

وَقَالُوا مَا لَنَا لَا نَرَىٰ رِجَالًا كُنَّا نَعُدُّهُم مِّنَ الْأَشْرَارِ ﴿٦٢﴾

او( کافران او مشرکان به په دوزخ کې) ووایی: په مونږ څه شوی، هغه اشخاص(مؤمنان) نه وینو، چې مونږ د اشرارو په نوم یادول.

أَتَّخَذْنَاهُمْ سِخْرِيًّا أَمْ زَاغَتْ عَنْهُمُ الْأَبْصَارُ ﴿٦٣﴾

آیا( هغوی جنتیان وو، او) مونږ پرې( ناحقه) ملنډې وهلې،او که زمونږ له سترګو پناه( په دوزخ کې) دی.

إِنَّ ذَٰلِكَ لَحَقٌّ تَخَاصُمُ أَهْلِ النَّارِ ﴿٦٤﴾

د دوزخیانو ترمنځ دغه خبرې اړول کاملاً حقې او واقع کیدونکې دی.

قُلْ إِنَّمَا أَنَا مُنذِرٌ ۖ وَمَا مِنْ إِلَٰهٍ إِلَّا اللَّهُ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ ﴿٦٥﴾

( ای پیغمبره!) ووایه: زه صرف ستاسو لپاره( له الهی عذابه) یو تنبیه درکوونکی یم، او بیشکه چې د واحد قهار خدای نه غیر بل هیڅ معبود نشته.

رَبُّ السَّمَاوَاتِ وَالْأَرْضِ وَمَا بَيْنَهُمَا الْعَزِيزُ الْغَفَّارُ ﴿٦٦﴾

هغه چې د آسمانونو او ځمکې او د هغو ترمنځ د شته موجوداتو او مخلوقاتو رب، برلاسی او ډیر بښونکی ذات دی.

قُلْ هُوَ نَبَؤٌا۟ عَظِيمٌ ٦٧

(ای پیغمبره!خلکو ته)ووایه چې( قیامت) یوه ډیره لویه پیښه ده.

أَنتُمْ عَنْهُ مُعْرِضُونَ ٦٨

خو تاسو ترې مخ ګرځوئ( او پحقله یې غور او فکر نه کوئ).

مَا كَانَ لِىَ مِنْ عِلْمٍۭ بِٱلْمَلَإِ ٱلْأَعْلَىٰٓ إِذْ يَخْتَصِمُونَ ٦٩

زه د لوړو آسمانی مقاماتو( او مقربو ملائکو) د هغو خبرو اترو په باب هیڅ معلومات نه لرم چې( د آدم د خلقت او د کائناتو د نظام د بقا او فنا په باب) روان وو.

إِن يُوحَىٰٓ إِلَىَّ إِلَّآ أَنَّمَآ أَنَا۠ نَذِيرٌ مُّبِينٌ ٧٠

ما ته صرف همدا وحي کیږی چې باید تاسو( د کفر او شرک له ناوړو عواقبو نه) وویروم( خو د قیامت د تاکلې نیټې په باب هیڅ معلومات نه لرم).

إِذْ قَالَ رَبُّكَ لِلْمَلَٰٓئِكَةِ إِنِّى خَٰلِقٌۢ بَشَرًا مِّن طِينٍ ٧١

(هغه وخت د یادونې وړ دی) چې ستا رب پرښتو ته وویل: زه له ختې نه د بشر جوړولو اراده لرم.

فَإِذَا سَوَّيْتُهُۥ وَنَفَخْتُ فِيهِ مِن رُّوحِى فَقَعُوا۟ لَهُۥ سَٰجِدِينَ ٧٢

نو کله چې زه د هغه د وجود قالب جوړ او له خپل( ځانګړی) روح نه( چې مالکیت یې یوازې له ما سره دی) پکې پو کړم( او هغه ژوندی او سالم انسان شی) تاسو ورته( د تعظیم) سجده وکړئ.

فَسَجَدَ ٱلْمَلَٰٓئِكَةُ كُلُّهُمْ أَجْمَعُونَ ٧٣

ټولو پرښتو( د الهی حکم په تعمیل آدم ته د تعظیم) سجده وکړه.

إِلَّآ إِبْلِيسَ ٱسْتَكْبَرَ وَكَانَ مِنَ ٱلْكَٰفِرِينَ ٧٤

خو ابلیس چې په تکبر سره یې حکم و نه مانه په کافرانو کې وشمیرل شو.

قَالَ يَٰٓإِبۡلِيسُ مَا مَنَعَكَ أَن تَسۡجُدَ لِمَا خَلَقۡتُ بِيَدَيَّۖ أَسۡتَكۡبَرۡتَ أَمۡ كُنتَ
مِنَ ٱلۡعَالِينَ ٧٥

(الله تعالى) وفرمایل: ای ابلیسه ولې دې هغه( بشر ته) سجده ونه کړه چې ما په خپل قدرت جوړ کړی، آیا (قصداً او عمداً دې) تکبر وکړ، او که( واقعاً) د لوړې مرتبې لرونکی یې؟

قَالَ أَنَا۠ خَيۡرٞ مِّنۡهُ خَلَقۡتَنِي مِن نَّارٖ وَخَلَقۡتَهُۥ مِن طِينٖ ٧٦

ابلیس وویل: زه له هغه نه ډیر غوره او بهتر یم، زه دې له اوره پیدا کړی یم او هغه دې له خټې جوړ کړی دی.

قَالَ فَٱخۡرُجۡ مِنۡهَا فَإِنَّكَ رَجِيمٞ ٧٧

الله تعالی وفرمایل: له دې( عالیمقام جنت نه) ووځه بې له شکه چې ته (له الهی رحمته) رټل شوی یې.

وَإِنَّ عَلَيۡكَ لَعۡنَتِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلدِّينِ ٧٨

او تر قیامته دې زما لعنت وی په تا.

قَالَ رَبِّ فَأَنظِرۡنِيٓ إِلَىٰ يَوۡمِ يُبۡعَثُونَ ٧٩

ابلیس وویل: ای ربه تر قیامته راته مهلت راکړه.

قَالَ فَإِنَّكَ مِنَ ٱلۡمُنظَرِينَ ٨٠

الله تعالی وفرمایل: تا ته مهلت منظور دی.

إِلَىٰ يَوۡمِ ٱلۡوَقۡتِ ٱلۡمَعۡلُومِ ٨١

د ټاکلی وخت تر ورځې.

قَالَ فَبِعِزَّتِكَ لَأُغۡوِيَنَّهُمۡ أَجۡمَعِينَ ٨٢

ابلیس وویل: ستا په عزت دې زما سوګند وی چې ټول( خلک) به بې لارې کړم.

إِلَّا عِبَادَكَ مِنۡهُمُ ٱلۡمُخۡلَصِينَ ٨٣

خو ستا مخلص بندګان به زما( له شر او وسوسو نه) په امن وی.

قَالَ فَٱلۡحَقُّ وَٱلۡحَقَّ أَقُولُ ﴿٨٤﴾

**( الله تعالی) وفرمایل: په حق قسم او بیشکه زما خبره حقه ده:**

لَأَمۡلَأَنَّ جَهَنَّمَ مِنكَ وَمِمَّن تَبِعَكَ مِنۡهُمۡ أَجۡمَعِينَ ﴿٨٥﴾

**چې زه به هم دوزخ ستا او ستا له ټولو لاسپوڅو او ګوډاګیانو ډک کړم.**

قُلۡ مَآ أَسۡـَٔلُكُمۡ عَلَيۡهِ مِنۡ أَجۡرٖ وَمَآ أَنَا۠ مِنَ ٱلۡمُتَكَلِّفِينَ ﴿٨٦﴾

**( ای پیغمبره) ووایه چې زه( د دین د تبلیغ په بدل کې) ستاسو نه کومه اجوره او معاوضه نه غواړم، او (قرآن) مې هم له ځانه، نه دی جوړ کړی.**

إِنۡ هُوَ إِلَّا ذِكۡرٞ لِّلۡعَٰلَمِينَ ﴿٨٧﴾

**( بلکه دا قرآن چې تاسو ته یې لولم) د ټولو بشری پرګنو لپاره پند او عبرت دی.**

وَلَتَعۡلَمُنَّ نَبَأَهُۥ بَعۡدَ حِينِۭ ﴿٨٨﴾

**او بې له شکه به د څه مودې په تیریدو سره د( قرآن په حقانیت) پوه شی( او د هغه د وعدو او آیتونو عینی ظهور به پخپلو سترګو ووینی).**

**« تمت سورة ص بفضل الله و رحمته»**

**===============**